# حج د عِشق سفر دے

**07 May 2026**



(For Islamic Brothers)

هفته وراه د سنّتو ډکه اجتماع کښې کيدونکے

د سنّتو ډک بيان

پۀ 7 مئي، کال 2026ء (بمطابق: 19 ذو القعده شريف، کال 1447ھ) د پاکستان پۀ هفته وارو اِجتماعاتو کښې کيدونکے بيان

# حج د عِشق سفر دے

پۀ دې بيان کښې به تاسو زده کړئ...

- ___ د شَل حاجي اِيمان تازه کوونکې واقعه
- ___ د حاجيانو د اظهارِ عشق انداز
- ___ د حج د قبليدو 3 شرطونه
- ___ د حج د سفر بهترين ملګرے

پیشکش

اَلْمَدِيْنَةُ الْعِلْمِيَة

Islamic Research Center

(شعبہ: بیاناتِ دعوتِ اسلامی)

FOR FEEDBACK
(+92) 315 2692 786

GET MORE SPEECHES
(+92) 310 8882 033

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِیْنَ ؕ وَ الصَّلٰوۃُ وَالسَّلَامُ عَلٰی خَاتَمِ النَّبِیّٖن ؕ
اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّیْطٰنِ الرَّجِیْمِ ؕ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ ؕ

اَلصَّلٰوۃُ وَالسَّلَامُ عَلَیْكَ یَا رَسُوْلَ الله وَعَلٰی اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ یَا حَبِیْبَ الله
اَلصَّلٰوۃُ وَالسَّلَامُ عَلَیْكَ یَا نَبِیَّ الله وَعَلٰی اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ یَا نُوْرَ الله

نَوَیْتُ سُنَّتَ الْاِعْتِکَافِ (ترجمه: ما د سُنَّت اعتکاف نِیَّت اوکړو)

## د دُرُودِ پاک فضیلت

د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَ آلِهٖ وَ سَلَّم فرمان مبارک دے:

اَوْلَی النَّاسِ بِیْ یَوْمَ الْقِیَامَةِ اَکْثَرُهُمْ عَلَیَّ صَلَاةً

ترجمه: د قیامت په ورځ به په خلقو کښې د ټولو نه زیات ما ته نزدې هٰغه کَس وي، کوم چې په ما باندې د ټولو نه زیات درود شریف لولي-[1]

سُبْحٰنَ الله! خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! درودِ پاک څومره اعلیٰ نیکي ده---!! د دې په برکت سره د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم قُرب نصیب کیږي- د دې حدیثِ پاک لاندې د قرآنِ کریم مشهور مفسر، حکیم الاُمّت مفتي احمد یار خان نعیمي رَحْمَةُ اللهِ عَلَیْه لیکلي دي: د قیامت په ورځ به د ټولو نه په ارام کښې هغه وي څوک چې د حضور صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم سره وي او د حضور صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د ملګرتیا (یعني د قُرب، نزدې والي) د

[1]... ترمذی، ابواب الوتر، باب ما جاء فی فضل الصلوۃ...الخ، صفحه:144، حدیث:484۔

نصيب کيدو ذريعه زيات درود شريف وئيل دي - [1]

حشر میں کیا کیا مزے وارفتگی کے لُوں رضاؔ | لَوٹ جاؤں پا کے وہ دامانِ عالی ہاتھ میں[2]

وضاحت: د اعلیٰ حضرت رَحۡمَۃُاللهِ‌عَلَيۡه د عشق جوش ته وګورئ! فرمائي: اے رضا د قيامت په ورځ به زۀ د عشقِ رسول او د محبت او بے خودئ خوندونه اخلم، کله چې مې د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د کرم لَمَن لاس ته راشي نو په عشق او محبت کښې به د خوشحالئ نه په هوا شم

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیب! صَلَّی اللهُ عَلٰی مُحَمَّد

## د بيان اوريدلو نيتونه

په حديثِ پاک کښې دي: اِنَّمَا الْاَعْمَالُ بِالنِّيَّات د اعمالو دار و مدار په نيتونو دے- [3]

اے د خوږ نبي صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم عاشقانو! په ښو ښو نيتونو د عمل ثواب زياتيږي- راځئ چې د بيان اوريدو نه مخکښې څۀ ښۀ ښۀ نِيَّتونه اوکړو: مَثَلاً ◈ د الله پاک د رضا د پاره به ټول بيان اورم ◈ په اَدب به کښينم ◈ ښۀ په توجُّه به بيان اورم ◈ څۀ چې واورم، د هغې به د يادولو، بچپله پرې د عمل کولو او نورو ته د رَسولو کوشش کووم-

---

1... مرآۃ المناجیح، جلد:2، صفحه:100۔

2... حدائقِ بخشش، صفحه:104۔

3... بخاری، کتاب بدء الوحی، صفحه:65، حدیث:1۔

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## د شَل حاجي اِيمان تازه کوونکي واقعه

حضرت شفيق بلخي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: زهٔ مکے مکرمې ته د حج د پاره روان ووم پهٔ لاره کښې مې يو کَس وليدو،چې شَل دے، ګرځيدے نشي، پهٔ خوئيدو خوئيدو د مکے مکرمې طرف ته روان دے- زهٔ ډير حيران شوم چې دا څنګه عجيبه کَس دے، ګرځيدے نشي بيا هم پهٔ کوم شوق او محبت سره د مکے مکرمې طرف ته روان دے-

زهٔ د هغهٔ خوا له لاړم او پوښتنه مې ترې اوکړه: وروره! د کوم ځائے نهٔ راغلے يې؟ وه يې وئيل: زهٔ د سمر قند (***Samarkand***) نه را روان شوے يم- (سمر قند د اُزبکستان يوه صوبه ده او د اوسنۍ نقشې مطابق د سمر قند نه د مکے مکرمې فاصله تقريباً 4 زره 4 سوه 30 کلوميټره ده) دومره اوږد سفر او هُغه کَس ګرځيدے نشي پهٔ خوئيدو خوئيدو روان دے- حضرت شفيق بلخي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: زهٔ ډير حيران شوم او ما د هغهٔ نه پوښتنه اوکړه: خومره موده دې وشوه چې د سمر قند نه راوتے يې؟ وه يې وئيل: 10 کاله وشول- بيا خو نور هم ډير حيران شوم، حضرت شفيق بلخي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه پهٔ حيرانتيا سره مسلسل د هُغه خوش قِسمته عاشق رسول طرف ته کتل- هغهٔ پوښتنه اوکړه: اے شفيقه! څهٔ ته ګورې؟ وه يې فرمائيل: زهٔ ستا کمزورۍ او اوږد سفر ته ډير حيران يم، هُغه خوش قِسمته عاشقِ رسول ډير ښکلے جواب ورکړو، وه يې وئيل: اے شفيق بلخي! د سفر لرې والے به زما شوق رانزدې کړي او د څو پورې چې زما د کمزورۍ خبره ده نو زما د کمزورۍ ملاتړ

زما مالک او مولا دے۔ (1)

| | |
|---|---|
| فاصلوں کو تکلُّف ہے ہم سے اگر | ہم بھی بے بس نہیں بے سہارا نہیں |
| خود اُنہی کو پکاریں گے ہم دور سے | راستے میں اگر پاؤں تھک جائیں گے |

سُبْحٰنَ الله! اے د خوږ نبي صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم عاشقانو! تاسو وکتل چې د شَل حاجي جذبه څنګه زبردسته وه، د شَل (یعنې د ګرځیدو نه د معذوره) کیدو باوجود پهٔ خوئیدو خوئیدو د کعبې شریفې د زیارت پهٔ شوق کښې روان دے، د 10 کالو نه د مکے مکرمې طرف ته روان دے، د هغهٔ جذبې او حوصلې ته دې پهٔ لکونو سلامونه وي- پهٔ دې واقعه کښې زمونږ د پاره هم لوئي عبرت دے، هٔغه نادانه مسلمانان کوم چې ◈ د صحت مندی او روغ رمتتیا باوجود ◈ د مال او د دولت باوجود ◈ د وَس لرلو باوجود د حج د سفر سعادت نهٔ حاصلوي- شَل حاجي پهٔ خوئیدو خوئیدو روان وو، د هغهٔ د کور نه د وتو 10 کاله شوي وو، اوس هم لا پهٔ سفر کښې وو او د نادانه مسلمانانو صرف د یو څو ګینټو سفر ته ملا ماته وي-

کاش چې زمونږ د حج شوق نصیب شي، کاش--! زمونږ پهٔ زړهٔ کښې هم د **الله** پاک د محبت او عشقِ رسول شمع داسې بله شي چې مونږ هر څهٔ پریږدو او د الله او د رسول صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم پهٔ حُکم باندې عمل اوکړو او که حج فرض وي نو د حج د پاره لاړ شو، که فرض نهٔ وي او **الله** پاک د نفلي حج وَس راکړے وي نو کاش چې بیا بیا لاړ شو-

| | |
|---|---|
| شَرَف دے حج کا مجھے میرے کبریا یارَبّ! | روانہ سُوئے مدینہ ہو قافِلہ یارَبّ! |

[1] ...عاشقانِ رسول کی 130 حکایات، صفحہ:124۔

| | |
|---|---|
| دکھا دے ایک جھلک سبز سبز گنبد کی | بس اُن کے جلووں میں آجائے پھر قضا یارَبّ! |
| بَوقتِ نَزع سلامت رہے مِرا ایماں | مجھے نصیب ہو توبہ ہے اِلتجا یارَبّ![1] |

الله پاک دې د ھغه ټل حاجي په وسيله زمونږ هم د حج شوق نصيب کړي-

اٰمِیْن بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّمَ

## د حج کولو په فضيلتونو باندې احاديثِ مبارکه

(1): د بخاري شريف په حديثِ پاک کښې دي: اَلْعُمْرَۃُ اِلَی الْعُمْرَۃِ کَفَّارَۃٌ لِّمَا بَیْنَهُمَا يوه عمره د بلې عمرې پورې د مينځ د ګناهونو کفاره ده وَالْحَجُّ الْمَبْرُوْرُ لَیْسَ لَهٗ جَزَاءٌ اِلَّا الْجَنَّةُ او د مقبول حج جزا صرف او صرف جَنَّت دے-[2] (2): د مسلم شريف حديث پاک دے، نبئ رحمت، شفيعِ اُمَّت صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: اِنَّ الْحَجَّ یَهْدِمُ مَا کَانَ قَبْلَهٗ بے شکه حج مخکښيني ګناهونو معاف کوي -[3]

| | |
|---|---|
| بڑا حجّ پہ آنے کو جی چاہتا ہے | بُلاوا اب آئے گا کب یاالٰہی! |
| مَیں مکّے میں آؤں مدینے میں آؤں | بنا کوئی ایسا سَبب یاالٰہی![4] |

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰہُ عَلٰی مُحَمَّد

---

[1]... وسائلِ بخشش، صفحه:87 ملتقطاً۔

[2]... بخاری، کتاب العمرة، صفحه:475، حديث:1773۔

[3]... مسلم، کتاب الایمان، باب کون الاسلام یهدم، صفحه:63، حديث:121۔

[4]... وسائلِ بخشش، صفحه:107۔

## حج د الله پاک د پاره دے

یاد ساتئ چې حج معمولي عبادت نۀ دے بلکې دا د عشق سفر دے، پۀ دې کښې د اول نه تر اخره پورې هم د عشق اِظهار دے- تاسو غور اوکړئ چې **الله** پاک د نورو ډيرو عبادتونو هم حُکم فرمائيلے دے خو کله چې يې د حج حُکم اوکړو نو پۀ دې يې ډير ځانګړے انداز اختيار کړو ◈ د نمونځ پۀ حُکم کولو کښې يې وفرمائيل:

اَقِيْمُوا الصَّلٰوةَ (پاره:1، سورۀ بقره:43) | [مفهوم] ترجمهٔ کنزُ العِرفان: نمونځ قائم کړئ-

◈ د زکوٰة پۀ حُکم کولو کښې يې وفرمائيل:

اٰتُوا الزَّكٰوةَ (پاره:1، سورۀ بقره:43) | [مفهوم] ترجمهٔ کنزُ العِرفان: زکوٰة ادا کړئ-

◈ د روژې پۀ حُکم کولو کښې يې وفرمائيل:

كُتِبَ عَلَيْكُمُ الصِّيَامُ (پاره:2، سورۀ بقره:183) | [مفهوم] ترجمهٔ کنزُ العِرفان: پۀ تاسو روژې فرض کړے شوې-

خو قربان شم چې د حج حُکم يې اوکړو نو دا يې وه نۀ فرمائيل چې حج اوکړئ! بلکې وه يې فرمائيل:

وَلِلّٰهِ (پاره:4، سورۀ آلِ عمران:97) | [مفهوم] ترجمهٔ کنزُ العِرفان: او د الله د پاره-

د الله پاک د پاره څۀ دي ؟

| | |
|---|---|
| عَلَى النَّاسِ حِجُّ الْبَيْتِ (پاره:4، سورۂ آلِ عمران:97) | [مفهوم] ترجمۂ کنزُ العِرفان: پۀ خلقو باندې د دې کور حج کول فرض دي- |

سُبْحٰنَ الله! د دې حُکم شروع د کوم لفظ نه وشوه: لِلّٰهِ، د الله پاک د پاره دے ◈ نمونځ هم د الله پاک د پاره کولے شي ◈ روژه هم د الله پاک د پاره نيولے شي ◈ زکوٰة هم د الله پاک د پاره ادا کولے شي خو پۀ حج کښې د عشق غلبه ده، دلته د بندګۍ غلبه ده، ځکه يـې وفرمائيل:

| | |
|---|---|
| وَلِلّٰهِ (پاره:4، سورۂ آلِ عمران:97) | [مفهوم] ترجمۂ کنزُ العِرفان: او د الله د پاره- |

يعني هغه الله دے، تاسو بندګان يـې، که پۀ حکمت پوهيږئ او که نۀ، الله پاک فرمائيلي دي،بس پۀ ليونتوب او شوق سره راپاځئ او د حج د پاره ووځئ---!!(1)

## د حاجيانو د عشق د اِظهار انداز

سُبْحٰنَ الله! څومره ښکلے شان دے---!! تاسو وکتل چې ◈ هُغه اِنسان کوم چې پۀ جامو ګنډلو باندې پۀ زرګونو روپۍ لګوي، که پۀ جامو کښې يـې څۀ ګونجې راشي نو د هغۀ طبيعت خراب شي، هُغه اِنسان ګنډلے شوې جامې اوباسي او د کفن پۀ شان دوه څادرې اچوي- اے ورورہ---!! داسې ولې کوي؟ ګنډلے شوې جامې دې ولې ويستلې؟ جواب

[1]...تفسير کبير، پاره:4، سورۂ آلِ عمران، زيرِ آيت:95، جلد:3، صفحه:306-

میلاویږي:

## لِلّٰهِ، د الله پاک د پاره داسې کووم-

◈ چا چې به سحر او ماښام خوشبوئي لګوله، په زرګونو روپو باندې به يې د مياشتې خوشبوئي (*Perfumes*) اخستل، بيا بيا به يې په صابُن (*Soap*) باندې لاسونه وينځل، اوس خوشبودار څيز له لاس هم نهٔ وروړي- اے وروره ولې؟ د خوشبوئۍ لګولو سره به څهٔ وشي؟ داسې ولې کوې؟ جواب میلاؤیږي:

## لِلّٰهِ، يعنې ما ته هيڅ پته نشته، بس څهٔ چې کووم، د الله پاک د پاره يې کووم-

◈ د چا هئير سټائل (*Hairstyle*) چې د زرګونو روپو وو، په ويښتو کټ کولو چې به چا ګينټې تيرولې، اوس ويښتنهٔ نهٔ ګمنځوي چې چرته ويښتهٔ وه نهٔ رژيږي- ولې؟

## لِلّٰهِ، د الله پاک حُکم دے

◈ د عرفات ميدان ته ورسيدلې، هلته دې څهٔ اوکړل؟ دُعاګانې مې اوغوښتلې ◈ مزدلفې ته لاړې، هلته دې څهٔ اوکړل؟په کولاؤ ميدان کښې مې شپه تيره کړله، د سحر نـمونځ مې اوکړو، دعاګانې مې اوکړې او راوان شوم ! ◈ مِنیٰ ته ورسيدلې، جَمرات (يعنې د کاڼې منارې شان) ولاړې دي، هغه مې په کاڼو ويشتلې! ◈ روزانه دې په شيمپو (*Shampoo*) لګولو باندې ويښتهٔ غټ کړې وو، نرم کړي دي وو، دلته چې راغلې نو وه دې خريل ◈ کعبه شريفه د کومې په باره کښې چې د هر مسلمان عقيده ده چې دلته **الله**

پاک نۀ اوسيږي، هغه خو د وجود نه پاک دے، د ځائے نه پاک دے، د دې باوجود د هُغه کتهو د کور نه تاؤيږي؟ اے وروره! دا څۀ کوې؟ ولې يـې کوې؟ **اللّٰه** پاک خو پۀ هر ځائے کښې اوري، بيا د دُعاګانو د پاره هُم عرفات ته ولې لاړې؟ ولې دې د ليونو پۀ شان دا شکل جوړکړے دے---؟ د دې کارونو د پاره دې پۀ لکونو روپۍ ولې ولګولې؟ جواب هم يو ميلاؤيږي:

لِلّٰهِ، زۀ د **اللّٰه** پاک بنده يم، هغه زما **اللّٰه** پاک دے، بس هغۀ وفرمائيل او زۀ شروع شوم-

میں ہوں بندہ، وہ مولیٰ | کون ہے اپنا اُس کے سِوا
میں ہُوں اس کا وہ ہے مِرا | جس نے بنایا اور پالا

لَا اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ آمَنَّا بِرَسُوْلِ اللّٰهِ ([1])

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

## کاش چې پۀ سر راغلے وے

حضرت عبد اللّٰه بن مسروق رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه د خليفه هارُون الرشيد وزير (***Minister***) وو- ډيره موده يـې پۀ دُنيا دارۍ کښې تيره شوه، بيا **اللّٰه** پاک هغوئي ته د توبې توفيق ورکړو نو د دنيا دارۍ نه يـې ډډه اوکړه، د مخکښينو ټولو ګناهونو نه يـې توبه کړه او پيدل د حج د پاره روان شو- پخوانے دور وو، ګاډي او هوائي جازونه خو وو نۀ، نو هم پيدل يـې دومره

[1]...سامانِ بخشش، صفحه:35۔

اوږد سفر اوکړو، پۀ ځنګلونو باندې تیر شو، پۀ میدانونو باندې تیر شو، ویښتۀ یـې د دوړو نه ډک شول، ظاهري حُلیه یـې بدله شوه،

دلته چې کله مکې والا خبر شول چې وزیر صاحب (**Minister Sahib**) د حج د پاره تشریف راوړي، ظاهره ده چې د وزارت عهده (**Ministry post**) څۀ وړه عهده خو نۀ وي، نو د مکے مکرمې لوئې لوئې عهده داران د هر کلي د پاره راوتل، کله چې یـې وزیر صاحب باندې نظر پریوتونو ویې لیدولوچې د هغوئې ویښتۀ ګډ وډ دي، مخ یـې پۀ دوړو سخا دے، ټوله حُلیه یـې بدله شوې ده- لوئې لوئې عهده دارانو پۀ حیرانتیا سره پوښتنه اوکړه: تاسو دا د مسکینانو پۀ شان شکل او بغیر د پیزار نه پۀ ځنګلونو او میدانونو کښې پیدل سفر ولې اوکړو؟ بیا د توبې د پاره د راغلي ځواني وزیر صاحب د عشق نه ډک جواب واورئ! وه یـې فرمائیل: تاسو ووایئ چې کله یو اِنسان د خپل مولا پۀ در باندې حاضري اوکړي، د هغۀ څۀ حالت پکار دے؟ زۀ پیدل د حاضرۍ د پاره راغلے یم، حق خو دا وو چې پۀ سر باندې راغلے وے-(1)

حرم کی زمیں اور قدم رکھ کے چلنا | اَرے سَر کا مَوقع ہے او جانے والے(2)

سُبۡحٰنَ الله! خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! کاش چې زمونږ هم داسې د عشق او د مستۍ نه د ډک، ایمان تازه کوونکے حج سعادت نصیب شي-

---

1…البحر العمیق، الباب الثانی…الخ، الفصل الثانی…الخ، صفحه:319-

2…حدائقِ بخشش، صفحه:158-

## حج دې اوکړو، ګناهونه دې ولې پرې نۀ ښودل---؟

يو ځل يو ګس د عظيم وَلِيُّ الله حضرت جنيد بغدادي رَحۡمَةُاللهِعَلَيۡه پۀ خدمت کښې حاضر شو- هغوئي د (سلام دُعا نه پس) پوښتنه اوکړه: د کوم ځائے نه راغلے يې؟ عرض يې اوکړو: حج له تلے ووم، د هغه ځائے نه راغلے يم- وه يې فرمائيل: حج دې اوکړو؟ وه يې وئيل: آؤ جي! وه مې کړو- بيا هغوئي هغه د حج پۀ باطني رازونو باندې د پوهه کولو د پاره د هغۀ نه څۀ پوښتنې اوکړې او وه يې فرمائيل: ◈ کله چې د کور نه روان شوې نو ګناهونه دې هم پرېښودې وو؟ وه يې وئيل: نه، داسې خو مې نۀ وو کړي- وه يې فرمائيل: بيا خو تۀ هډو د کور نه نۀ يې روان شوے ◈ نوره پوښتنه يې اوکړه: کله چې ميقات نه روانيدلې او ګنډلې شوې جامې دې وويستلې او اِحرام دې وتړلو نو آيا هغه وخت دې بشري صفتونه (مثلاً غصه، کينه، حِرص، حَسَد وغيره) هم غورځولي وو که نۀ؟ وه يې وئيل: جي! داسې خو مې نۀ وو کړي- وه يې فرمائيل: تا خو (پۀ صحيح معنو کښې) اِحرام هم نۀ وو تړلے ◈ نوره پوښتنه يې ترې اوکړه: کله چې دې د عرفات پۀ ميدان کښې وقوف اوکړو (يعنې ايسار شوے وې) نو هغه وخت پۀ عبادت کښې پۀ کوشش باندې هم کلک ودريدلے وې که نۀ؟ وه يې وئيل: داسې مې هم اونکړے شول- وه يې فرمائيل: (پۀ صحيح معنو کښې) ستا وقوفِ عرفات هم نۀ دے شوے ◈ نوره پوښتنه يې ترې اوکړه: کله چې مزدلفې ته ورسيدلې نو آيا د نفس خواهشات دې پرېښودي وو؟ وه يې وئيل: دا را نه هم اونشو- وه يې فرمائيل: (پۀ صحيح معنو کښې) ستا قيام هم نۀ دے شوے-

◈ هغوئي نوره پوښتنه اوکړه: کله چې دې د کعبې طواف کړے وو نو آيا (د زړۀ پۀ سترګو دې) د **الله** پاک د عطا او کرم باران هم ليدلے وو؟ وه يې وئيل: نه- وه يې فرمائيل: (پۀ

صحيح معنو کښې) ستا طواف هم نۀ دے شوے- نور يې وفرئيل: کله چې دې پۀ مِنیٰ کښې قُرباني کړې وه، آيا نَفسِ اَمّاره [يعنې ګناهونو ته راپاروونکے نفس] دې هم قربان کړے وو؟ وه يې وئيل: نه- وه يې فرمائيل: (پۀ صحيح معنو کښې) ستا قرباني هم اونشوه ◈ اخري پوښتنه يې ترې اوکړه: کله چې دې جَمَرات (شيطانان) پۀ کاڼو ويشتي وو، ورسره دې د نفس خواهشات هم غورځولي وو که نۀ؟ وه يې وئيل: افسوس! دا مې هم اونکړے شو- وه يې فرمائيل: (پۀ صحيح معنو کښې) دې رَمِي هم اونشوه- **افسوس چې تا پۀ صحيح معنو کښې حج ادا نکړو، لاړ شه! د دې صفتونو سره بيا حج اوکړه---!!**

| | |
|---|---|
| تُو نے مجھ کو حج پہ بُلایا | یا اللہ! مری جھولی بھر دے |
| گِردِ کعبہ خُوب پھرایا | یا اللہ! مری جھولی بھر دے |
| میدانِ عرفات دِکھایا | یا اللہ! مری جھولی بھر دے |
| بخش دے ہر حاجی کو خُدایا | یا اللہ! مری جھولی بھر دے |
| مولیٰ مجھ کو نیک بنا دے | اپنی اُلفت دِل میں بسا دے |
| بہرِ صفا و بہرِ مروَہ | یا اللہ! مری جھولی بھر دے |
| نارِ جہنّم سے تُو بچانا | خُلدِ برِیں میں مجھ کو بسانا |
| یاربّ! از پئے شاہِ مدینہ | یا اللہ! مری جھولی بھر دے |
| میں ہُوں بندہ تُو ہے مولیٰ | تُو ہے قادِر، میں ناکارہ |
| میں منگتا تُو دینے والا | یا اللہ! مری جھولی بھر دے |

| | |
|---|---|
| دے حُسنِ اَخلاق کی دولت | کر دے عطا اِخلاص کی نعمت |
| مجھ کو خزانہ دے تقویٰ کا | یااللہ! مری جھولی بھر دے |
| بخش دے میری ساری خطائیں | کھول دے مجھ پر اپنی عطائیں |
| برسا دے رحمت کی برکھا | یااللہ! مری جھولی بھر دے[1] |

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

## د ځان خوښۍ نه بچ کيدل ضروري دي

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! کامِل ولي حضرت جنيد بغدادي رَحۡمَةُاللهِعَلَيۡه په خومره ښکلي انداز کښې حج له د تلونکي ذِهن جوړ کړو، عام طور چې کله د حج سفر يا د عمرې د سفر نه واپسي کيږي نو شيطان د خپل لښکر سره راورسيږي او په بنده د ځان خوښۍ جال ور اچوي ◈ د بنده په زړه کښې خواهش راوچتيږي چې ما ته دې هارونه واچولے شي ◈ خلق دې را وړاندې کيږي او ما له دې اُمبارکي راکوي ◈ زما لاسونه دې ښکلوي ◈ ما ته دې د دعاګانو وائي ◈ زړه يـې غواړي چې زۀ ټولو ته ووايم چې زۀ د حج يا د عمرې نه راغلے يم-

زۀ دا نۀ وايم چې په زړۀ کښې دا جذبې او خواهشات راوستل ګناه ده، البته! داسې لالچ په زړۀ کښې راوستل خطرناک دي، د دې په وجه اِنسان د ځان خوښۍ او ريا په ګناهونو

[1]...وسائلِ بخشش، صفحه:123121 ملتقطاً-

کښې اخته کيدے شي- ځکه حضرت جنيد بغدادي رَحۡمَةُاللهِعَلَيۡه د هُغه حج نه د راتلونکي ذِهن جوړ کړو چې وروره--!! مونړ چرته! او حقيقي حج چرته--!! ځکه ځان پۀ **حاجي** ګڼلو سره پۀ ځان خوشې کښې د اخته کيدو پۀ ځائے پۀ خپلو غلطو باندي ژړيدل بهتر دي- **الله** پاک پۀ قرآنِ کريم کښې فرمائي:

| | |
|---|---|
| فَلَا تُزَكُّوْۤا اَنْفُسَكُمْ ؕ هُوَ اَعْلَمُ بِمَنِ اتَّقٰى ﴿۳۲﴾ (پاره:27، سورۀ نجم:32) | [مفهوم] ترجمۀ کنزُ العِرفان: نو تاسو پخپله د خپلو ځانونو پاکي مۀ بيانوئ، هغه ښه پيژني هُغه څوک چې پرهيزګار وي- |

معلومه شوه چې پۀ خپله خُله خپل تعريف نۀ دي کول پکار- بلکې چې د نيکئ سعادت ميلاؤ شو نو بيا د هغې د قبليدو پۀ فِکر کښې اخته کيدل پکار دي-

## کاش چې د داسې حج سعادت رانصيب شي

**خوږو او محترمو اِسلامي ورونو!** حضرت جنيد بغدادي رَحۡمَةُاللهِعَلَيۡه د سوالونو پۀ شکل کښې د دې سفر د باطني ادابو څنګه ښکلې نقشه راښکله!! بنده چې کله د کور نه وځي نو د ګناهونو نه ډک عادتونه دې هم پريږدي ◈ کنډلې شوي جامې چې اوباسي او د کفن پشان دوه څادرې (يعني احرام) وتړي نو ورسره دې غصه، حرص، کينه، بُغض، حسد وغيره باطني بيمارياني هم د زړۀ نه اوباسي ◈، چې پۀ ميدانِ عرفات کښې ودريږي نو عبادت ته دې ملا وتړي ◈، قرباني چې اوکړي نو ورسره دې نفس امَّاره هم ختم کړي ◈، د شيطانانو طرفته چې کاڼې وُلي نو ورسره دې نفساني خواهشات هم اوغورځوي، او چې طواف کوي نو--! سُبۡحٰنَ الله! د **الله** پاک پۀ محبت کښې دې ورک شي، د **الله** پاک مهرباني او کرم ته دې

سترګې ونيسي، پهٔ خپلو ګناهونو دې ژاړي، درحمت او معافۍ دپاره دې زاري منت کوي، د هغهٔ د پټ تدبيرنه دې ويريږي، کعبه دې شمع وګڼي او د پتنګ پشان دې ترې ګيرچاپيره تاويږي، چې زړهٔ پهٔ محبت الهي کښې ټوپونه وهي او د سترګو نه د اوښکو باران شروع وي---!! الله! الله! که داسې حج يا عمره مو نصيب شي نو بيا غم د څهٔ خبرې---!!

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب!　　صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## د حج پهٔ سفر کښې د ګناهونو نه ځان ساتئ!

آه! افسوس چې نن سبا حالات بالکل نازک دي، د حج او د عمرې پهٔ سفر کښې هم ګناهونه پهٔ نظر راځي، ټول حاجيان دې داسې وي، دا ضروري نهٔ ده، البته! ◈ ډير خلق دي د کومو نه چې د حج پهٔ سفر کښې هم نـمونځونه قضا کيږي ◈ بلکې ځيني خلق خو به داسې هم وي، کومو ته چې به دا هم معلومه نهٔ وي چې پهٔ جاز کښې د نـمونځ وخت شي نو نـمونځ به څنګه کوي؟ ◈ پهٔ ائير پورټ (*Airport*) کښې د انتظار کولو پهٔ وخت پهٔ ناسته ناسته د نـمونځ وخت تير شي، د بعضو خو ورته هډو پام هم نهٔ وي ◈ پهٔ جده ائير پورټ (*Airport*) د کوزيدو نه پس پهٔ ګاډي کښې کيناستل وي، هلته پهٔ ځينو د وتو تادي وي چې هسې نهٔ بس را نه لاړ نشي، د خپل بس پهٔ لټولو کښې وخت تيروي او د نمونځ اِحساس ورسره هم نهٔ وي ◈ مکے مکرمې او هوټل ته د رسيدو، پهٔ کمره کښې د سامان اېښودو تادي وي پرې، بيا يـې چرته ذِهن جوړيږي چې بس اوس چرته سامان وغيره کيږدي او فارغ شي، چې حرم شريف ته ورسيږي نو نـمونځ به شروع کړي-

د **الله** پاک پناه! **خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو!** دا زۀ حقيقت خبرې کووم، يقيناً چې ټول حاجيان داسې نۀ وي، ټول عمره کوونکي هم داسې نۀ وي، اَلْحَمْدُلِله! د يو نه بَل نيک، عبادت ګزار، تقوىٰ دار او پرهيزګاره به هم درته پۀ مکه او مدينه کښې پۀ نظر راشي بلکې د حج پۀ اِجتماع کښې خو پۀ زرګونو اوليائے کرام بلکې انبيائے کرام يعنې حضرت خضر او حضرت اِلياس عَلَيْهِمَا السَّلَام هم هر کال حج کوي- **الله** پاک دې زمونږ د هغوئي فيضان نصيب کړي-

البته! د کومو چې زۀ ذِکر کووم، يعنې د حج پۀ سفر کښې نـمونځونه قضا کوونکي، دا هم ښه ډير وي ◈ بيا غيبتونه ◈ بے ځايه غصې کول ◈ بعضې نادانه خو پۀ دې مقدس سفر کښې د کنځلو نه هم ډډه نۀ کوي ◈ کله پۀ جاز ليټ کيدو باندې انتظاميې والا ته خبرې کوي ◈ کله د هوټل د کمرې پۀ لږ شان کمزورې انتظام کولو باندې هوټل والؤ ته کنځلې کوي ◈ پۀ مطاف شريف کښې (چرته چې طواف کولے شي)، بالکل کعبې ته مخامخ هم ځينې خلق ګډ وډ حرکتونه کوي ◈ د حَجرِ اَسوَد د ښکلولو د پاره ديکې وهلے کيږي، دۀ له ديکه، هغۀ له ديکه، د بندګانو حقونه داسې وهلے کيږي چې بس د **الله** پاک پناه---!!

**اے د خوږ نبي** صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم **عاشقانو!** ياد ساتئ چې حج د عشق سفر دے، دلته خو هم د عشق غلبه پکار ده- خومره ښکلے منظر به وي چې انسان د **الله** پاک عطا او کرم ته پام کوي، پۀ خپلو ګناهونو او بے خيالو باندې ژړيږي، د شرم او پښيمانتيا نه لړزيږي، سر يې ښکته کړے وي او پۀ ادب سره مکے مکرمې ته ورسيږي او پۀ ژړا ژړا د حج ارکان پوره

کړي، د خپلو ګناهونو معافي غواړي، د **الله** پاک د رحمت نه طمع لري او واپس راځي-.

جُرْم و عصیاں پہ اپنے لجاتا ہوا اَور اشکِ ندامت بہاتا ہوا

تیری رحمت پہ نظریں جماتا ہوا، در پہ حاضِر یہ تیرا گنہگار ہے

## د حج د قبليدو درې شرطونه

حضرت علامه مفتي امجد علي اعظمي رَحۡمَۃُاللّٰہِعَلَیۡه فرمائي: د حج د قبليدو درې شرطونه دي، کوم چې په قرآنِ کريم کښې بيان شوي دي، اِرشاد دے: (1)

| | |
|---|---|
| اَلۡحَجُّ اَشۡهُرٌ مَّعۡلُوۡمٰتٌ ۚ فَمَنۡ فَرَضَ فِيۡهِنَّ الۡحَجَّ فَلَا رَفَثَ وَلَا فُسُوۡقَ ۙ وَلَا جِدَالَ فِى الۡحَجِّ ؕ (پاره:2، سورهٔ بقره:197) | [مفهوم] ترجمهٔ كنزُ العِرفان: حج يو څو معلومې مياشتې دي نو څوک چې په هغې کښې د حج نِيَّت اوکړي نو په حج کښې دې نهٔ د ښځو په مخکښې د صُحبت تذکره کوي او نهٔ څهٔ ګناه او نهٔ دې چا سره جګړه کوي- |

په دې آيت مبارک کښې د دريو خبرو نه منع فرمائيلے شوې ده: (1): رَفَث (يعنې فحش او ګنده خبرې) (2): فُسُوق (يعنې ګناه) او (3): جِدَال (يعنې جنګ جګړې)- دا درې واړه کارونه په عامو ورځو کښې، په خپل کور کښې، محله کښې، د دوستانو په محفل کښې، غرض په هر ځائے کښې منع دي خو حج يو اهم عبادت دے، مکه مکرمه حرم شريف دے، بنده اِحرام تړلے دے او لَبَّيۡكَ اَللّٰهُمَّ لَبَّيۡك وائي او خاص طور د **الله** پاک په بارګاه کښې

[1]...بهارِ شريعت، جلد:1، صفحه:1060، حصه:6ـ

يـېـې د حاضرۍ اِراده کړې ده، لهذا پۀ هُغه وخت کښې د دې دريو واړو خبرو نه بچ کيدل ډير ضروري کيږي۔

## د ګناهونو نه د پاک حج فضيلت

خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي:

مَنْ حَجَّ لِلّٰهِ فَلَمْ يَرْفُثْ، وَلَمْ يَفْسُقْ رَجَعَ كَيَوْمِ وَلَدَتْهُ أُمُّهُ

ترجمه: چا چې د الله پاک دپاره حج اوکړو او پۀ دغه وخت د ګنده خبرو او د ګناهونو نه بچ شو، هغه داسې پاک راواپس شو ګويا هم نن د مور د خِيټې نه زيږيدلے وي۔ (1)

سُبْحٰنَ الله! خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! معلومه شوه چې که د ګناهونو نه محفوظ باتې شي ، او د نيکو نه ډک د حج سفر وي نو د ټولو ګناهونو معافي ميلاويږي - دلته دا خبره ياده ساتئ چې د حج د برکت پۀ وجه اګر که کبيره ګناهونه هم معاف کيږي، البته! د هغې ازاله بيا هم پۀ ذمه باندې پاتې وي، مثلاً نـمونځ قضا کول کبيره ګناه ده، د حج پۀ برکت دا ګناهونه خو به معاف شي خو قضا کړے شوي نـمونځونه به بيا هم راګرځول وي۔

| | |
|---|---|
| يا خدا! حج پہ بُلا آکے میں کعبہ دیکھوں | کاش!اِک بار میں پھر میٹھا مدینہ دیکھوں |
| پھر مُیَسَّر ہو مجھے کاش وُقُوفِ عَرَفات | جلوہ میں مُزدلفہ اور مِنٰی کا دیکھوں |

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

---

1...بخاری، کتاب الحج، باب فضل الحج المبرور، صفحه:423، حديث:1521۔

# پهٔ حج کښې تقوىٰ ضروري ده

**اللّٰه** پاک پهٔ قرآنِ کريم کښې فرمائي:

| | |
|---|---|
| وَ تَزَوَّدُوْا فَاِنَّ خَيْرَ الزَّادِ التَّقْوٰى ٝ وَ اتَّقُوْنِ يٰۤاُولِي الْاَلْبَابِ ﴿۱۹۷﴾ (پاره:2، سورهٔ بقره:197) | [مفهوم] ترجمهٔ کنزُ العِرفان: او توښه ځان سره واخلئ پس د ټولو نه بهتره توښه يقيناً پرهيزګاري ده او اے عقل والؤ! زما نه ويريږئ- |

دا د حج د سفر يو ادب ښودلے کيږي چې د حج سفر وي، د عمرې سفر وي، د هغې د پاره مونږ ته ضروري سامان د ځان سره ساتل دي، د ضروري خرچو د انتظام سره تلل پکار دي، دا عام طور خلق کوي، غټې غټې بيګونه اخستلے کيږي، يو يو څيز ډير پهٔ احتياط سره ايښودلے کيږي، ستن، ګونټې، رانجه، توليه، واړهٔ واړهٔ څيزونه هم ډير پهٔ احتياط سره ايښودے کيږي، صحيح دي، دا ايښودل پکار دي، د سُنَّت نه مونږ ته د دې ترغيب ميلاؤيږي خو يو بل څيز هم دے کوم چې د دې سفر د پاره د ځان سره ايښودل وي، هغه څهٔ دے؟ فرمائي:

| | |
|---|---|
| فَاِنَّ خَيْرَ الزَّادِ التَّقْوٰى (پاره:2، سورهٔ بقره:197) | [مفهوم] ترجمهٔ کنزُ العِرفان: پس د ټولو نه بهتره توښه يقيناً پرهيزګاري ده- |

د لارې بهتره توښه **تقوىٰ** ده- ◈ دا د عشق سفر دے، دا د محبت سفر دے ◈ پهٔ دې سفر کښې اِحساس پکار دے، د زړهٔ نرمي پکار ده ◈ چې کله پهٔ کعبه شريفه باندې نظر پريوځي نو د سترګو نه اوښکې رواني شي ◈ چې کله طواف کوې، د **اللّٰه** پاک پهٔ

حُضُور کښې دې د حاضرۍ تصور جوړ کړے وي ◈ زړۀ د عاجزۍ نه ښکته وي ◈ د سترګو نه اوښکې بهيږي ◈ قدم پۀ قدم پۀ زړۀ کښې د **اللّٰه** پاک **محبت** راځي، پۀ دې سفر کښې دا خيزونه ذوق زياتوونکي دي، د دې سفر برکتونه يو پۀ دوه کوونکي دي- دا به څنګه راځي؟ چې کله پۀ زړۀ کښې تقوىٰ وي- او داسې نۀ ده چې مونږه پۀ جاز کښې کښينو نو تقوىٰ زمونږه پۀ لمن کښې واچولے شي، نه---!! دا تقوىٰ مونږ ته د ځان سره وړل دي، پۀ خپل کور کښې تقوىٰ اختيارول دي، پۀ عام ژوند کښې تقوىٰ اختيارول دي، د ګناهونو نه بچ کيدل دي، نيکۍ کول دي، د دې پۀ برکت به پۀ زړۀ کښې نرمي راځي، سينه به د **اللّٰه** پاک د **محبت** نه ډکيږي، بيا به اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْكَرِيم! د **اللّٰه** پاک پۀ بارګاه کښې د حاضرۍ مزه هم ځانګړې وي-

څکه که د حج او د عمرې تياري کوۍ نو د لارې پۀ توښه کښې تقوىٰ هم لازمي شاملول پکار دي چې دا د سفر بهتره توښه ده-

## د حج سفر او د موبائل اِستعمال

يوه ډيره اهمه خبره د کومې نه چې د حج پۀ سفر کښې کم از کم لازمي بچ کيدل پکار دي، د موبائل ډير اِستعمال---!!

اَللّٰهُ اَكْبَر! خلق د حج او عمرې پۀ وخت موبائل دومره ډير اِستعمالوي چې بس د **اللّٰه** پاک پناه! ◈ بالکل د کعبې شريفې مخې ته سيلفيانې ويستلے کيږي ◈ پۀ مدينه منوره کښې د شنو جنګلو مخې ته موبائل استعماليږي ◈ پۀ نيتونو باندې خو ظاهره ده چې حُکم نشي لګيدے البته! د روضې مخې ته يا د کعبې شريفې مخې ته صرف خلقو ته د

ښودلو د پاره د دُعا والا ستائل او د دروغو د ژړا والا شکل جوړوي او ودريږي، ويډيوګانې (*Videos*) جوړولے کيږي او په سوشل ميډيا (*Social media*) وغيره باندې اپ لوډ کولے کيږي- پته نۀ لګي چې په دې کښې به يــې څۀ نيت وي، البته! چرته چې په زړۀ کښې د تيريدونکو وسوسو نۀ هم خبريدل پکار وي، هلته د داسې دروغو په شکل جوړولو باندې نۀ پوهيږو- چا وئيلي دي:

دوست يه اِہتمامِ عکس کشی | اپنی ہستی سے نکل! مدینہ ہے

وضاحت: عکس کشي: يعنې تصوير جوړول- مطلب دا دے چې اے دوسته---!! مدينے ته په رسيدو باندې هم تصويرونه، ويډيوګانې، سيلفيانې---!! دلته خو عشق پکار دے! دلته خو انسان له داسې کيدل پکار دي چې د خپل ځان نه هم خبر نۀ وي، داسې په عشق کښې بے حاله شه- ځکه چې دا مدينه ده، دلته د خپل ځان نه لرې شه! د ګنبدِ خضراء په جلوو کښې داسې ډوب شه چې د دُنيا د حال نۀ هم خبر نۀ يــې-

آؤ اِک سجدہ کریں عالَمِ مدہوشی میں | لوگ کہتے ہیں کہ ساغَرؔ کو خُدا یاد نہیں

## د نيکانو سره اوسئ!

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! مونږ ته د حج د سفر ادب ښودلے شو چې په دې لاړ کښې تقویٰ د ځان سره يوسئ ! د دې يوه طريقه کومه چې په عقل کښې راځي، دا هم ده چې مونږ د تقویٰ دارو سره لاړ شو- کوم خلق چې پخپله نيکۍ کوونکي وي، د ګناهونو نه بچ کيدونکي وي بلکې که عاشقِ رسول عالِم صاحب وي، د هغوئي سره سفر اوکړئ! د

هغوئي پۀ برکت به مو عِلمِ دِين هم نصيب کيږي او ورسره ورسره به د ګناهونو نه بچ کيدل هم نصيب کيږي-

## پۀ کثرت سره ژړيدونکے حاجي

حضرت مُخَوَّل رَحۡمَۃُاللّٰہِعَلَیۡه فرمائي: حضرت بُهَيم عِجلي رَحۡمَۃُاللّٰہِعَلَیۡه ما ته وفرمائيل: زما د حَج اِراده ده، څوک زما د حج ملګرے جوړ کړئ! زما يو ګاؤنډي هم حج له تلل غوښتل، ما هٰغه ګاؤنډي د حضرت بُهَيم رَحۡمَۃُاللّٰہِعَلَیۡه ملګرے جوړ کړو-

حضرت بُهَيم رَحۡمَۃُاللّٰہِعَلَیۡه ډير نيک او متقي بزرګ وو، د **اللّٰه** پاک د ويرې نه به يــې ژړل، حضرت مُخَوَّل رَحۡمَۃُاللّٰہِعَلَیۡه فرمائي: زما ګاؤنډي ته چې کله د هغوئي د ژړا پۀ باره کښې پته ولګيده نو زما خوا له راغلو، او ويې وئيل: زۀ د حضرت بُهَيم رَحۡمَۃُاللّٰہِعَلَیۡه سره نشم تللے، ما د بَل چا ملګرے جوړ کړئ! ما پۀ حيرانتيا سره پوښتنه اوکړه: زمونږ پۀ ټول ښار کښې به د هغوئي پۀ شان نيک او اخلاقي بنده نۀ وي--!! بيا تۀ د هغوئي د صحبت نه محرومي ولې غواړې؟ ګاؤنډي ووئيل: هغوئي اکثر ژاړي- د هغوئي سره به زما سفر ښه نۀ وي- فرمائي: ما خپل ګاؤنډي پوهه کړو چې دا ډير ښه بزرګ دے، نيک دے، تقوىٰ دار دے، د هغوئي صحبت به ستا د پاره ډير فائده مند وي- هغۀ وومنله-

خير! سفر شروع شو، د حج قافله د مکے مکرمې طرف ته روانه شوه- چې کله دوئي واپس راغلل نو زۀ د خپل ګاؤنډي خوا له لاړم، هغۀ زما شکريه ادا کړه او وئې وئيل: **اللّٰه** پاک دې تاسو ته جزائے خير درعطا کړي، ما د حضرت بُهَيم رَحۡمَۃُاللّٰہِعَلَیۡه پۀ شان انسان چرې

هم نۀ دے ليدلے، زۀ مالداره يم او هغه غريب دے، د دې باوجود هغوئي پۀ ما باندې خرچ کولو، هغوئي د بوډا والي باوجود نفلي روژې نيولې، ما بے روژې ځوان د پاره به يـې خوراک تيارولو او زما به يـې ډير زيات خدمت کولو-

حضرت مُخَوَّل رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه وائي: ما پوښتنه اوکړه: تاسو د حضرت بُهَيم رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د ژړيدو پۀ وجه ډير پريشانه وئ، اوس ستاسو څۀ ذِهن دے؟ ګاؤنډي ووئيل: وړومبے خو زۀ بلکې د قافلې نور خلق به هم د هغوئي د ډيرې ژړا نه ويريدل خو پۀ ورو ورو د هغوئي د صحبت پۀ وجه زمونږه زړۀ هم پۀ نرميدو شو، د هغوئي سره به پۀ شريکه مونږه هم (د **الله** پاک او د نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم پۀ عشق کښې) ژړل- (1)

يادِ نبیِّ پاک میں روئے جو عمر بھر | مولیٰ مجھے تلاش اُسی چشمِ تر کی ہے

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب!　　صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## د حج د سفر بهترين ملګرے

يو ځل يو کَس حضرت حاتِمِ اَصَم رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه ته عرض اوکړو: زۀ د حج سفر کول غواړم، ما ته ښوک داسې ملګرے وښايئ د چا د برکتي صحبت نه چې زۀ فيض حاصل کړم او د **الله** پاک پۀ بارګاه کښې حاضر شم- حضرت حاتِمِ اَصَم رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه وفرمائيل: اے وروره! که

[1]... عيون الحكايات، الحكاية التأسعة و الخمسون...الخ، صفحه:81 ملخصاً-

تۀ ملګرے غواړې نو د قرآنِ کريم د تلاوت ملګرتيا (يعنې صحبت) اِختيار کړه--!! (1) دا بهترين ملګرے دے- پۀ کثرت سره تلاوت کوه، پۀ زړۀ کښې به دې تقوىٰ راشي ◈ د ګناهونو نه ځان بچ کړۀ، زړۀ به دې نرم شي ◈ پۀ نيکو پسې نيکئ کوه، زړۀ به دې پاک صفا شي ◈ پۀ کثرت سره توبه کوۀ، د اِستِغفَار کثرت کوۀ، اِنْ شَآءَاللّٰهُ الْکَرِيم! زړۀ به دې صفا شي نو د حج د سفر مزه به يو پۀ دوه شي-

## نيک اعمال رساله د ځان سره يوسئ!

پۀ اخره کښې يوه مشوره عرض کووم: شيخ طريقت، اميرِ اهلِسُنَّت دَامَتْ بَرَکَاتُهُمُ الْعَالِيَه د حج او د عمرې سفر پۀ نيکو کښې د تيرولو د پاره د نيک اعمال تحفه عطا کړې ده: 19 نيک اعمال- دا يوه مختصره رساله ده- پۀ دې کښې 19 سوالونه دي- د هر سوال نه لاندې خالي خانې ورکړے شوې دي، روزانه تاسو ته دا سوالونه لوستل او د دې نه لاندې پۀ ورکړے شوو خانو کښې د آؤ يا نه پۀ شکل کښې خانې ډکول دي- دا رساله د ځان سره وساتئ! اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْکَرِيم! د حج او د عمرې سفر به مو پۀ نيکو کښې تير شي-

◈ د دې نه علاوه چې څوک د حج او د عمرې پۀ سفر نۀ روانيږي، د هغوئي د پاره هم د 72 نيک اعمال رساله ده، تاسو دا رساله د ځان سره وساتئ او روزانه د دې خانې ډکوئ! اِنْ شَآءَاللّٰهُ الْکَرِيم!د نيک، ښه او اخلاقي مسلمان د جوړيدو سعادت به مو نصيب شي-

◈ د حج او عمرې سفر کوونکو له پکار دي چې هلته پۀ مقدسو ځايونو کښې کم از

[1]... بحر الدموع، صفحه:111۔

کم یو ځل د قرآنِ کریم ختم په مکه مکرمه کښې او یو ځل د قرآنِ کریم ختم په مدینه منوره کښې ضرور اوکړي ◈ که په مکه مکرمه او مدینه منوره کښې د نفلي روژو د نیولو سعادت هم حاصل شي نو څومره ښه خبره ده چې په مکه مکرمه کښې یوه نیکي د یو لاکھ نیکو برابر ده[1] ◈ د10 ذُو الحج نه د 13 ذُو الحج پورې4 ورځې روژې نشي نیولے[2]، د دې نه علاوه په نورو ورځو کښې روژې نیسی ◈ طواف داسې نیکي ده چې صرف هم هلته کیدے شي، بل په یو ځائے کښې هم نهٔ کیږي- لهذا د حج د ورځو نه علاوه چې څومره ورځې په مکه کښې یئ، که چرې داسې جدول جوړ کړئ چې د ورځې روژه نیسئ او ارام کوئ، د شپې عمره ادا کوئ، که عمره نشی کولے نو صرف نفلي طوافونه کوئ- اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْکَرِیم! ډیر برکتونه به مو نصیب کیږي- هم داسې په مدینه منوره کښې که هم د نفلي روژو سعادت نصیب شي نو څومره ښه خبره ده-

الله پاک دې د تلونکو سفر قبول کړي- پاتې کیدونکو ته دې په راتلونکي کال کښې دا سعادت عطا کړي- اٰمِیْن بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

## د دعوتِ اِسلامي د یوې شعبې تعارف: شعبه حج و عمره

**خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو!** دعوتِ اِسلامي، د عاشقانِ رسول دِیني تنظیم دے، د دې تنظیم لاندې د مسلمانانو د شرعي او اخلاقي تربیت کولو د پاره ډیرې شعبې جوړې کړے

[1] ...مسند بزار، جلد:11، صفحه:313، هدیث:5119۔

[2] ...مسند ابی یعلی، جلد:3، صفحه:21، حدیث:2915۔

شوي دي، پۀ دغه شعبو کښې يوه شعبه: **شعبه حج او عمره** هم ده-

د دې شعبې پۀ ذريعه پۀ مختلفو ځايونو کښې مثلاً ◈ حاجي کيمپ ◈ مختلفو ټريول ايجنسو ◈ او جوماتونو وغيره کښې حج او عمرې له د تلونکو عاشقانِ رسول شرعي او اخلاقي تربيت کولے شي- صرف پۀ مارچ 2026 کښې 138د حج او عمرې تربيتي سيشنز (*Sessions*) شوي دي پۀ دې کښې تقريباً3زره 570 کسانو شرکت کړے دے- نور دا چې د **حَرَمَينِ طَيِّبين** د خوش قِسمتو مسافرو د تربيت د پاره د امیرِ اهلِسُنَّت مولانا محمد الياس عطار قادري دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه د ليکلے شوو کتابونو **رَفِيقُ الحَرَمَين** او **رَفِيقُ المُعتَمِرِين** تحفې هم وړاندې کولے شي د پاره د دې چې د **الله** پاک د کور ميلمانۀ او د **الله** پاک د حبيب صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم عاشقان دا عبادت پۀ صحيح طريقه پۀ کولو کښې کامياب شي-

اَلْحَمْدُ لِلّٰه! د حج او د عمرې کوونکو د اسانۍ د پاره د آن لائن کورس پۀ ذريعه د تربيت حاصلولو اساني هم موجوده ده، تقريباً د يوې مياشتې **فيضان حج** او **فيضان عمره** کورس کولے شي، پۀ کومو کښې چې د حج او د عمرې تفصيلي حُکمونه او د حج او د عمرې طريقه ښودلے کيږي-

## د حج او عمرې موبائل ايپلي کيشن

**اے د خوږ نبي** صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم **عاشقانو!** اَلْحَمْدُ لِلّٰه! د دعوتِ اِسلامي آئي ټي ډيپارټمنټ يو ډير ښکلے ايپلي کيشن جاري کړے دے: ***Hajj & Umrah*** (حج او عمره)-

د دې ايپلي کيشن په مرسته تاسو د حج او عمرې د مختصر طريقې ◈ د حج او عمرې

د ضروري مسئلو وغيره نه ځان خبرولے شئ ◈ د دې نه علاوه په دې موبائل ايپلي کيشن کښې د حج او عمرې دعاګانې ◈ د حرمين شريفين مُقَدَّسو ځايونو معلومات وغيره هم شامل دي ◈ د دې موبائل ايپلي کيشن يو ډير اهم خاصيت دا دے چې په دې کښې د تهري ډِي ويډيوز (*3D Videos*) په ذريعه د حج او عمرې عملي طريقه هم ښودلے شوې ده- دا موبائل ايپلي کيشن په خپل موبائل کښې انسټال کړئ، د دې نه ټپله هم فائده واخلئ او نورو له هم د دې ترغيب ورکړئ-

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

## يو څو ضروري اِعلانات

◈ د هر خالي په ورځ اميرِ اهلِسُنَّت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه په **مَدَني چينل لائيو هفته واره مَدَني مذاکره** کوي، د راتلونکې هفتې په ورځ به هم د ماسخوتن د نمونځ نه پس اِنْ شَآءَ اللّٰه الْكَرِيم! هفته واره مَدَني مذاکره کيږي، په کومه کښې چې به شيخِ طريقت، اميرِ اهلِسُنَّت مولانا الياس عطّار قادري دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه د سوالونو جوابونه هم ورکوي- ټول ذِمه داران او عاشقانِ رسول دې په دې مَدَني مذاکره کښې ټپله هم شرکت وکړي او نورو له دې هم دعوت ورکړي ◈ شيخِ طريقت، اميرِ اهلِسُنَّت هره هفته د يوې ديني رسالې لوستلو ترغيب ورکوي، په راتلونکې هفته واره مَدَني مذاکره کښې به د رساله **د زړهٔ د ساتنې فضيلتونه** اعلان کولے شي- دا رساله ټپله هم ولولئ! نورو له هم د دې ترغيب ورکړئ او څوک چې سوشل ميډيا مثلاً واټس ايپ وغيره استعمالوي هغوئي دې د **اللّٰه** پاک د رضا او د ثواب د پاره دا رساله د نورو سره هم شيئر کړي! ◈مکتبة المدينه يو اهم

کتاب پۀ نوم د **مخلوق کي خدمت کے فضائل** شائع کرے دے پۀ دي کښي به تاسو د مخلوق د خدمت اهميت ،ضرورت، فضائل او د دې متعلق واقعات لوستلے شئ، دا کتاب د مکـتبة الـمدينه د يو شاخ نه پۀ **200** روپے پۀ بيع واخلئ ځپله يې هم ولولئ او نورو له هم ترغيب ورکړئ-

◈ د عاشقانِ رسول ديني تنظيم دعوتِ اسلامي په ديني او فلاحي خدمتونو کښې مصروف دے تاسو ته خواست دے چي په دې کارونو کښې د دعوتِ اسلامي سره ډيره ډيره مرسته اوکړئ، د قربانو ورځې نزدې دي **الله** پاک دې د قربانۍ کولو والو قربانۍ قبولې کړي! د خپلې قربانۍ څرمن دعوتِ اسلامي له ورکړئ! که کيدے شي نو د اوس نه نيت اوکړئ چي مونږ به د خپلې قربانۍ څرمن دعوتِ اسلامي ته ورکوو اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْکَرِيْم!

◈ د شرعي تقاضو مطابق قرباني کولو دپاره د دعوتِ اسلامي لاندې کيدونکي اجتماعي قربانۍ کښې خپله حصه شامله کړئ! د دې دپاره د خپلې علاقه د ذمه دار سره رابطه اوکړئ، **الله** پاک دې مونږ ته د عمل کولو توفيق راعطا کړي- اٰمِيْن بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صلَّى الله عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّمَ

د قربانۍ تفصيلي احکامو زده کولو دپاره د مکـتبة الـمدينه کتاب بهار شريعت جلد:3حصه:15او د امير اهلسنت حضرت علامه مولانا ابو بلال محمد الياس عطار قادري رضوي دَامَتْ بَرَکَاتُهُمُ الْعَالِيَه د 50 صفحو رساله **ابلق گهوڑے سوار** واخلئ او مطالعه يې کړئ او نورو له هم ترغيب ورکړئ-

**خوږو او محترمو اسلامي ورونړو!** د بيان په اخره کښې د سُنّتو فضيلت او د ژوند د يو څو ادابو بيانولو سَعَادت حاصلووم- تاجدارِ رسالت، شهنشاهِ نبوت صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: **مَنْ اَحَبَّ سُنَّتِیْ فَقَدْ اَحَبَّنِیْ وَمَنْ اَحَبَّنِیْ کَانَ مَعِیْ فِی الْجَنَّةِ** چا چې زما د سُنّتو سره محبّت اوکړو هغه زما سره محبّت اوکړو او چا چې زما سره محبّت اوکړو هغه به په جَنَّت کښې زما سره وي- (1)

سینہ تیری سُنّت کا مدینہ بنے آقا! | جَنَّت میں پڑوسی مجھے تم اپنا بنانا

## د اوبو څښلو سُنَّت او آداب

**د اخري نبي، رسولِ هاشمي** صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم **فرمان مبارک دے:** د اوښ په شان په يوه ساه اوبۀ مۀ څښئ بلکې دوه يا درې ځل (د ساه ګانو اخستو سره) څښئ او د څښلو نه مخکښې بِسْمِ الله لولئ او په فارغيدو اَلْحَمْدُ لِلّٰه لولئ!- (2)

**اے د خوږ نبي** صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم **عاشقانو!** که اوبۀ وي او که د څښلو څۀ بل څيز ◈ د څښلو نه مخکښې بِسمِ الله لولئ ◈ وړوکے وړوکے ګوټ کوئ، د غټ ګوټ کولو سره د ځيګر بيماري پيدا کيږي ◈ اوبۀ په دريو ساه ګانو کښې څښئ او په ښي لاس سره يې څښئ ◈ که په لوټه وغيره مو اودس کړے وي نو د هغې نه د پاتې شوو اوبو په څښلو کښې د 70 مرضونو شِفا ده چې دا د آبِ زم زم شريف مشابهت لري، د دې دوؤ (يعنې د اودس نه د

---

[1] ...تاريخ دمشق، جلد:9، صفحه:343۔

[2] ...ترمذی، کتاب الاشربة، صفحه:464، حديث:1885۔

پاتې شوو اوبو او د زم زم شريف) نه علاوه هرې اوبۀ پۀ ولاړه څښل مکروه عمل دے، دا دواړه قِسمه اوبۀ قبلې طرف ته د مخ کولو سره پۀ ولاړه څښئ ◈ د څښلو نه مخکښې يې ښه وګورئ چې د څښلو پۀ څيز کښې څۀ ضررې څيز خو نشته ◈ د څښلو نه پس اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ لولئ ◈ امام محمد بن محمد غزالي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: د بِسْمِ الله وئيلو سره پۀ اوبو څښلو شروع کوئ، د وړومبی ساه پۀ اخِره کښې اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ د دويمې نه پس اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعَالَمِيْن او د دريمې ساه نه پس اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعَالَمِيْنَ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيم لولئ- دا يو ښه کار دے، که ونکړے شو نو هم پکښې څۀ باک نشته او پۀ شروع کښې د بِسْمِ الله وئيلو او پۀ اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ سره پۀ ختمولو به هم سُنَّت ادا شي ◈ پۀ ګلاس کښې پاتې شوې د مسلمان پاکې جوټه اوبۀ د استعمال قابل کيدو باوجود هسې نۀ دي توئې کول پکار ◈ منقول دي: سُؤْرُ الْمُؤْمِنِ شِفَاءٌ يعنې د مسلمان پۀ جوټه کښې شِفا ده ◈ د څښلو د يو څو سعتونو نه پس چې خالي ګلاس ته وګورئ نو د هغې د اړخونو نه به يو څو څاڅکې پۀ بيخ کښې جمع شوې وي، هغه هم څښل پکار دي- (1)

د مختلفو سنتو زده کولو د پاره د مکـتبة الـمدينه د بهارِ شريعت جلد: 3 نه حصه نمبر 16 او د شيخ طريقت، امير اهلسنت علامه مولانا ابو بلال محمد الياس عطار قادري رضوي دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه د 91 صفحو رساله 550 سنّتیں اور آداب واخلئ او اوئې لولئ! د سنتو زده کولو يوه بهترينه ذريعه د دعوتِ اسلامي پۀ مَدَني قافلو کښې د عاشقانِ رسول سره د سنتو ډک سفر کول هم دے-

[1]...550 سنتيں اور آداب، صفحه:16۔

آؤ بھائی! قافلے میں ہم کریں مل کر سفر | سنتیں سیکھیں گے اِس میں ان شاء اللہ سر بسر
مجھ کو جذبہ دے سفر کرتا رہوں پروردگار | سُنّتوں کی تربیت کے قافلے میں بار بار(1)

اللہ پاک دې مونږ ته د عمل کولو توفيق راعطا کړي۔

اٰمِیْن بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیب! صَلَّی اللہُ عَلٰی مُحَمَّد

[1]... وسائل بخشش، صفحه:635۔